بسم الله الرحمن الرحيم

د بخښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالى: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾

سورة الأحزاب: ۳۳

"بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو عليهم السلام له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."

د اهل سنتو او شيعيانو په کتابونو کې ډير نبوي حديثونه راغلې چې وايي دا مبارک ايت د هغو پينځو کسانو په باره کې نازل شوي چې د کساء (څادر) خاوندان وو، او اهل بيت يوازې همدغه پينځه هستۍ دي، او هغه پينځه شخصيتونه دا دي: محمد، علي، فاطمه، حسين او حسين.

د مثال په توګه دغو سرچينو ته مراجعه کولې شئ:

مسند أحمد (۲٤۱هـ): ۱: ۳۳۱، ٤: ۱۰۷، ٦: ۲۹۲ و ۳۰٤؛ صحيح مسلم (۲٦۱ هـ): ۷: ۱۳۰؛ سنن الترمذي (۲۷۹ هـ): ٥: ۳٦۱ او داسې نورې؛ السنن الکبری د نسائي (۳۰۳ هـ): ٥: ۱۰۸ و۱۱۳؛ الذرية الطاهرة النبوية د دولابي (۳۱۰ هـ): ۱۰۸؛ المستدرك على الصحيحين د حاکم النيشابوري (٤۰٥ هـ): ۲: ٤۱٦، ۳: ۱۳۳ و۱٤٦ و۱٤۷؛ البرهان د زرکشي (۷۹٤ هـ): ۱۹۷؛ فتح الباري شرح صحيح البخاري د ابن حجر العسقلاني (۸٥۲ هـ): ۷: ۱۰٤؛ أصول الکافي د کليني (۳۲۸ هـ): ۱: ۲۸۷؛ الإمامة والتبصرة د ابن بابويه (۳۲۹ هـ): ٤۷، ح ۲۹؛ دعائم الإسلام د مغربي (۳٦۳ هـ): ۳٥ و۳۷؛ الخصال د صدوق (۳۸۱ هـ): ٤۰۳ و ٥٥۰؛ الأمالي د طوسي (٤٦۰ هـ): ح ٤۳۸ و ٤۸۲ و ۷۸۳. او همدارازو ګورئ تفسير د دغه ايت په: د طبري په جامع البيان (۳۱۰ هـ) په جصاص أحکام القرآن (۳۷۰ هـ)؛ د واحدي په أسباب النزول (٤٦۸ هـ)؛ دابن الجوزي په زاد المسير (٥۹۷ هـ)؛ د قرطبي په الجامع لأحکام القرآن (٦۷۱ هـ)؛ تفسير ابن کثير (۷۷٤ هـ)؛ تفسير الثعالبي (۸۲٥ هـ)؛ د سيوطي الدر المنثور (۹۱۱ هـ)؛ د شوکاني فتح القدير (۱۲٥۰ هـ)؛ تفسير العياشي (۳۲۰ هـ)؛ تفسير القمي (۳۲۹ هـ)؛ تفسير فرات الکوفي (۳٥۲ هـ) د أُولوا الأمر ايت په ذيل کښې؛ مجمع البيان د طبرسي (٥٦۰ هـ) او داسې نورو ډيرو سرچينو کې.

Download from:aghalibrary.cm

پـه مړي ژړا

**Download from:aghalibrary.cm**

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأَنَّهُما لَن يَفترِقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمايل:

زهٔ تاسو تـه دوه درانـه او ارزښتناک څيزونـه پريږدم: يـو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبيت، که چيرې پـه دې دوو مـو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه بـه يو له بله جدا کيږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) پـه غـاړه مـا تـه راورسيږي.

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرك حـاکـم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# په مړي ژړا


لیکوال:
علامه سید مرتضیٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي



د اهل بیتو نړیواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد۱، البکاء علی المیت
نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري
تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت علیهم السلام - اداره ترجمه
مترجم: سرفراز علي مهدي
زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم:** په مړي ژړا
لیکوال: علامه سید مرتضیٰ عسکري
تیارونکې: د اهلبیتود نړیوالې ټولنې د ژباړې څانګه
ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ایم اے عربي
تصحیح: انور شاهین خانخېل
وروستی کتنه: ډاکټر عبدالرحیم درانی
صفحه بندي: فاطمه ګلزار
چاپ نېټه: ۱۴۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱۶م)
دچاپ وار: ورومبی
شمېر: ۲۰۰۰
چاپ خانه: مجاب
خپروونکې: د اهلبېتو نړیواله ټولنه
ISBN: 978-964-529-0
www.ahl-ul-bayt.org
info@ahl-ul-bayt.org

# لړليک


د تړولنې څو خبرې < ۹
سريزه < ۱۳
په مړي ژړا < ۱۷
۱- د سعد بن عباده په بيماري او ناروغۍ د پېغمبر اکرمﷺ
ژړا < ۱۷
۲- په خپل زوی ابراهيم باندې د پېغمبر اکرمﷺ ژړا < ۱۸
۳- په خپل نمسي د پېغمبر اکرمﷺ ژړا < ۲۱
۴- په خپل ګران ترۀ حمزه (بزرګوار) باندې د پېغمبر اکرمﷺ
ژړا < ۲۲
۵- د موته جنګ په شهيدانو د پيغمبر اکرمﷺ ژړا < ۲۳
۶- په حضرت جعفر بن ابی طالب باندې د پېغمبر اکرمﷺ
ژړا < ۲۵
۷- د خپلې مور آمنه بي بي په مزار د پېغمبر اکرمﷺ ژړا < ۲۶
۱- د ام الفضل حديث < ۲۷
۲- د بي بي زينب بنت جحش روايت < ۲۹
۳- د بي بي عائشې روايت < ۳۱

# د ټولنې څو خبرې

بسم الله الرحمن الرحيم

هغه ګران بیه میراث چې د خدای د ګران رسولﷺ پاکواهلبیتو علیهم السلام له ځانه وروسته پرېښی دی او د هغوی لارویانو هغه له ورکېدو څخه ساتلی دی د دین یوه کامله بېلګه او نمونه ده چې د اسلامي علومو بېلا بېلې څانګې لري. او د علم ډېر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو علیهم السلام د علمونو په رڼا کښې په اسلام باندې د بېلا بېلو سوالونو، شبهو او فکري بې لارېتوبونو ځواب ورکړي، او په تېرو شویو پیړیو کښې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه ورکړي او د مشکلاتو حل لارې یې ښودلې دي.

د اهلبیتو علیهم السلام نړیوالې ټولنې ـ د دې لپاره چې دا ذمه واري یې اخیستې ده ـ د رسالت له حریمه او له حقو

اعتقاداتوڅخه دفاع ته وړاندې شوې ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او اسلام مخالفوخلقو همیشه د هغې په مخالفت کښې کوشش کړے دے. د اهلبېتو؈ نړیواله ټولنه په پاکه لاره کښې، ځان د اهلبیتو؈ له ریښتینو لارویانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې همېشه د تهمتونو او تورونو لرې کولو ته تیار وي او دا کوشش کوي چې په هره زمانه کښې د زمانې د غوښتنو مطابق د دې جنګ په ورومبې سر کښې پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې حقله د اهلبېتو؈ د مکتب د پوهانو په کتابونو کښې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، مثال یې نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول له عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان، پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبېتو؈ نړیوالې ټولنې دا کوشش کړے دے چې د دې تجربو نوے ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د

هغو کسانو چې د اهلبیتو علیهم السلام مکتب یې قبول کړے دے، کتابونه چاپ کړي او د حقیقت د چینې تږو ته یې وړاندې کړي.

دې غونډې د شیعه ؤ د تېر شویو عالمانو لیکل شوي کتابونه او تحقیقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقیقت د لټوونکو لپاره د یوې خوږې چینې په شان وي، او په دې زمانه کښې چې عقل په تکامل او پوره کېدو دے د اهلبېتو علیهم السلام هغو حقیقتونو ته چې د نړیوالو لپاره یې د تحفې په څېر پرېښودي دي غوږ کیږدي.

هیله لرو چې د دې ټولنې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قیمتي وړاندیزونو او ښو نیوکو څخه خبر کړي.

هم دا رنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پېغمبر صلی الله علیه وآله د پاک دین په خپرولو کښې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدایه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړوکے غوندې کوشش په خپلې درګاه کښې قبول او منظور کړي او د آخري امام

حضرت امام مهدي‌علیه‌السلام تر سیوري لاندې نور توفیق هم راکړي.

په دې ځای کښې مناسبه ګڼو چې د پښتو له قدرمن شاعر، لیکوال او محقق ښاغلي انور شاهین خانخېل څخه مننه وکړوو چې د دې کتاب په ترجمه کښې د مرستې او د تصحیح کار یې ترسره کړو او هم له هغو کسانو مننه کووچې د دې کتاب د چارو په پوره کېدو او سر ته رسولو کښې یې له مونږ سره مرسته کړې ده په تېره بیا هغه کسان چې د ترجمې په اداره کښې کوششونه کوي.

د اهلبېتو‌علیهم‌السلام د نړیوالې ټولنې ثقافتي څانګه

# سریزه

د قران پاک او سنت په محور وحدت او یووالے

بسم اللّٰه الرّحمن الرّحیم

اَلْحَمْدُ للّٰه رَبِّ الْعالَمین، وَ الصَّلاةُ وَ السَّلامُ عَلٰی مُحَمَّد وَ آلہ الطّاهرینَ وَ السَّلامُ عَلٰی اَصْحابه الْبَرَرَة الْمَیامین.

مونږ ټول مسلمانان ترخپل مېنځ مشکلاتو او اختلافاتو له امله په خپلو کښې له یو بل سره په لانجو او جګړو اخته یوو او هم دا رنګ د اسلام دښمنانو له بهره له داسې لارې چې مونږ پرې نه پوهیږو، زمونږ وحدت او یووالے په تفرقه او زمونږ رعب او دبدبه یې په کمزورتیا بدله کړې ده، دومره اختلافات یې رامینځته کړل چې له مونږه یې د دفاع کولو طاقت هم واخېست او په مونږ باندې مسلط او واکمن شول حال دا چې پاک الله په قران پاک کښې فرمائي:

﴿وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡ﴾؛[۱]

"د پاک الله او د هغه د پیغمبرﷺ اطاعت وکړئ او یو بل سره جګړې مه کوئ ګنې کمزوري به شئ او ستاسو قدرت او رعب به لاړ شي!" هو:

﴿وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٍ﴾[۲]

"هر یو مصیبت او تکلیف چې درته دروړسي نو دا ستاسو د عمل نتیجه او الله تعالی ډېر خلق بخښي هم!"

نو ښه به دا وي چې نن او بلکې هره ورځ باید قران او سنت ته ستانه او بېرته وګرځو او خپل وحدت او یووالے د قران او سنتو مطابق برابر کړو لکه څنګه چې پاک الله فرمائي:

۱. سوره انفال: ۴۶.
۲. سوره شوری: ۳۰.

﴿فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ﴾؛[۱]
که د یو څیز په حقله په خپلو کښې لانجه وکړئ نو د هغهٔ د حکم په اړه خدا ے او د هغهٔ رسولﷺ ته مراجعه وکړئ.

مونږ هم، په دې بحثونو کښې قران او سنت ته مراجعه کړې ده او مونږ د اختلافي مسائلو لاربښونه او دليلونه له قران او سنت څخه اخلو چې له دې لارې د خدا ے پاک په فضل سره یو ځل بیا د مسلمانانو د وحدت او اتحاد سبب وګرځي.

هيله من يم چې اسلامي عالمان، پوهان او متفکران به هم په دې ډګر کښې له مونږ سره ملګرتيا او تعاون وکړي او خپل نظريات او راې به مونږ ته راوليږي چې په نتيجه کښې يې د مسلمانانو وحدت او يووالے زيات ټينګ شي.

سيد مرتضىٰ عسکري

۱. سوره نساء: ۵۹.

## په مړي ژړا

په مړي ژړا کول

الف- هغه روایتونه چې فرمائي: پیغمبراکرمﷺ په مړي ژړیدۀ او نور یې هم دغه کار ته هڅول

### ۱- د سعد بن عباده په بیماري او ناروغۍ د پیغمبراکرمﷺ ژړا

په صحیح مسلم کتاب کښې له عبد الله بن عمر څخه روایت دے چې وې ویل: «سعد بن عباده ناجوړه شو او رسول اکرمﷺ، سره د عبدالرحمان بن عوف، سعد بن ابی وقاص او عبدالله بن مسعود د هغه پوښتنې لپاره د هغه کور ته ورغلل کله چې یې هغه ولید نو هغه بې هوشه ؤ، پیغمبراکرمﷺ وفرمایل ایا دې په حق رسیدلے دے؟ وویل شول نه اے د خدا ے رسوله! پیغمبراکرمﷺ په ژړا

شو خلقو هم کله چې هغه حضرت په ژړا ولیدۀ نو هغوي هم په ژړا شول، وې فرمایل ایا نه وینئ چې خدا ے په هغه چا عذاب نه نازلوي څوک چې زمونږ د ورور لپاره وژاړي او هم دا رنګ د مومن ورور په غم کښې د غمجن کس په زړۀ هم عذاب نه نازلوي، خو د دې په خاطر یې – خپلې ژبې ته یې اشاره وکړه- یا عذاب کوي او یا یې بخښې.»[1]

## ۲- په خپل زوے ابراهیم باندې د پیغمبر اکرم ژړا

په صحیح بخاري، صحیح مسلم، سنن ابيداود او سنن ابن ماجه کتابونو کښې له انس بن مالك څخه روایت کوي چې وې ویل:[2]

د رسول د خدا ے خدمت ته ورغلم... د پیغمبراکرم زوے ابراهیم د ځنکندن په حال کښې ؤ. نو د هغه حضرت له

۱. صحیح مسلم، ټوک ۲، مخ ۶۳۶، کتاب الجنائز، باب ۶.
۲. دا عبارت له صحیح بخاري دی.

مبارکو سترګو اوښکې روانې شوې نو عبدالرحمان بن عوف و ویل: اے د خدا ے رسوله! ایا تهٔ هم ژاړې؟ وې فرمایل: «د عوف زویه! دا رحمت دے» او بیا یې ورزیاته کړه او وې فرمایل: [ایا په سمه نهٔ وینې] «سترګې مو ژړېدونکې او زړهٔ مو غمجن دے خو د خدا ے له رضا نه بغېر بل څه په ژبه نهٔ راوړم. (بیا یې وفرمایل) اے ابراهیمه! په رښتیا چې مونږ ستا په جدائۍ سره ډېر غمجن یوو.»[1]

دا روایت په سنن ابن ماجه کښې په دا ډول دے:

انس بن مالك وائې: کله چې د ګران رسولﷺ زوے ابراهیم په حق ورسیدهٔ، نو پېغمبر اکرمﷺ حاضرو کسانو ته وفرمایل: «هغه په کفن کښې تر هغې مه پټوئ [چې د آخري ځل لپاره] د هغه دیدار وکړم.» بیا یې سر ته ورغے هغه ته یې سترګې غړولې او ورته ټیټ شو حال دا چې ژړېدهٔ.[2]

---

۱. صحیح مسلم، ټوک ۴، مخ ۱۸۰۸، کتاب الصبیان؛ سنن ابي‌داود، ټوک ۳، مخ ۱۹۳، باب البکاء علی المیت؛ سنن ابن ماجه، ټوک ۱، مخ ۵۰۷؛ صحیح بخاري، ټوک ۱، مخ ۱۵۸.
۲. سنن ابن ماجه، ټوک ۱، مخ ۴۷۳، کتاب الجنائز.

په سنن ترمذي کښې راغلي دي چې:

جابربن عبدالله انصاري وائي: پېغمبراکرمﷺ د عبدالرحمان بن عوف لاس ونيوۀ او له هغۀ سره د خپل زوی ابراهيم سر ته راغے او هغه (ابراهيم) يې، چې د ځنکندن په حال کښې ؤ ونيوۀ او له ځان سره يې غاړه باسۀ او په ژړا شو. عبدالرحمان بن عوف وويل: آيا ژړاکوې؟ مګر تۀ هغه کس نۀ يې چې مونږ ته دې ويل چې ژړا مۀ کوئ؟ وې فرمايل: «نه،زۀ د ژړا کوونکو له دوو ډلو چې کم عقل او ساده دي چې په خپل کار سره د ګناه ارتکاب کوي منعې کوم يوه هغه ډله چې د مصيبت او غم په وخت خپل مخونه راشوکوي او ګريوانونه شلوي او بل هغه کسان چې د مصيبت په وخت د شېطانانو خبرې په خوله راوړي.»[1]

۱. سنن ترمذي، ټوک ۴، مخ ۲۲۶، کتاب الجنائز، باب الرخصة في البکاء علی الميت. دا حديث د سني حديث پېژندونکو عالمانو په نزد حسن حديث دے.

## ۳- په خپل نمسي د پېغمبراکرمﷺ ژړا

په صحيح بخاري، صحيح مسلم، سنن ابیداود او سنن نسائي کښې روايت شوے دے چې: د پېغمبراکرمﷺ لور بي بي هغه حضرت ته پېغام ولېږهٔ چې: زمونږ کور ته راشه چې زما زوے د مړ کېدو په حال کښې دے.

پېغمبراکرمﷺ پاڅېد او سره د سعد بن عباده او خپلو څو نورو اصحابو د هغهٔ پوښتنې ته ورغلل. ماشوم چې سا يې اخېسته او مرګ حاله ؤ د هغه بزرګوار مخې ته يې راوړهٔ. د پېغمبراکرمﷺ سترګې له اوښکو ډکې شوې او څو څاڅکي اوښکې يې وغورځېدې. سعد بن عباده وويل: اے د خدا ے رسوله! دا څه وينم؟ وې فرمايل: « دا رحمت او د زړهٔ سوز دے چې الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په زړونو کښې اچولې دے او پاک الله يوازې په خپلو مهربانو بندګانو باندې رحمت نازلوي او يوازې هغوي بخښي.»[۱]

---

۱. صحيح بخاري، کتاب الجنائز، باب قول النبيﷺ: «يعذب الميت ببعض بکاء اهله عليه.» کتاب المرضى، باب عبادة الصبيان، ټوک ٤،

## ۴- په خپل ګران ترۀ حمزه (بزرګوار) باندې د پېغمبراکرمﷺ ژړا

په طبقات ابن سعد، مغازي واقدي، مسند احمد بن حنبل او په نورو سني کتابونو کښې روايت شوے دے چې: پېغمبراکرمﷺ د اُحُد له غزا وروسته چې کله د انصارو له کورنو يې د ژړا اواز واوريدۀ چې په خپلو مړو ژړيدل، نو د هغه حضرت مبارکې سترګې هم له اوښکو ډکې شوې او وژړيدۀ او وې فرمايل: «زما د ګران ترۀ حمزه څوک نيشته چې ورباندې وژاړي.» سعد بن معاذ چې کله د پېغمبراکرمﷺ دا خبره واوريده نو د بني عبدالاشهل قبيلې ښځو ته ورغے او هغوي ته يې وويل چې د حمزه د

---

مخونه ۳ او ۱۹۱؛ کتاب التوحيد، باب ان رحمة اللّه قريب من المحسنين؛ صحيح مسلم، کتاب الجنائز، باب البکاء على الميت، ټوک ۲، مخ ٦٣٦، حديث ۱۱؛ سنن ابي داود، کتاب الجنائز، باب البکاء على الميت، ټوک ۳، مخ ۱۹۳، حديث ۳۱۲٥؛ سنن النسائي، ټوک ٤، مخ ۲۲، کتاب الجنائز، باب الأمر بالاحتساب و الصبر؛ مسند احمد، ټوک ٥، مخونه ۲۰٦، ۲۰٤ او ۲۰۷.

شهادت له امله [پېغمبر ته تسلیت ووایئ او په حمزه باندې وژړیږئ]. هغوي چې دا کار وکړ نو پېغمبراکرمﷺ د هغوي لپاره دعا وکړه او هغوي یې کورونو ته بېرته ستنې کړې. له دې پېښې وروسته به چې کله په انصارو کښې مړے وشو نو د انصارو ښځو به وړومبې په حضرت حمزه ژړا کوله او بیا به یې په خپلو مړو ژړا کوله.[۱]

## ۵- د موته جنګ په شهیدانو د پیغمبر اکرمﷺ ژړا

په صحیح بخاري کښې روایت شوے دے چې:

۱. دا روایت مو د حمزه بزرګوار د ژوند د حال په بیان کښې له طبقات ابن سعد، ټوک ۳، مخ ۱۱، چاپ دار صادر بیروت، ۱۳۷۷ هجری مو راوړ. په دې حقله تفصیلي حدیث په مغازی واقدی، ټوک ۱، مخ ۳۱۵ ـ ۳۱۷، کې راغلے دے. او همدارنګ په، امتاع الاسماع، ټوک ۱، مخ ۱۶۳؛ مسند احمد بن حنبل، ټوک ۲، مخ ۴۰؛ تاریخ طبری، ټوک ۲، مخ ۵۳۲، چاپ مصر؛ سیره ابن هشام، ټوک ۳، مخ ۵۰؛ ابن عبد البر په استیعاب، او ابن اثیر په اسد الغابه کښې بیان کړے دے، چې لنډیز یې د حمزه □د ژوند د حال په بیانولو کښې راغلے دے.

پېغمبراکرمﷺ [څرنګه ]د زید، جعفر او ابن رواحه شهیدېدل، د هغوي د شهادت له خبر رارسیدو نه وړاندې خلقو ته بیان کړل او هغوي یې وستائل او وې فرمایل:

«زید بیرغ اوچت کړ او ژوبل شو او بیا شهیدشو! پس له هغهٔ جعفر بېرغ واخېست او هغه هم شهید شو! له دې وروسته ابن رواحه بېرغ ورپوهٔ او هغه هم شهید شو.» پېغمبراکرمﷺ په داسې حال کښې دا وېنا کوله چې له سترګو یې اوښکې روانې وې![1]

---

۱. صحیح بخاری، ټوک ۲، مخ ۲۰۴، کتاب فضائل الصحابة، باب مناقب خالد؛ البدایة و النهایة، ابن کثیر، ټوک ۴، مخ ۲۵۵؛ سنن الکبری، بیهقی، ټوک ۴، مخ ۷۰؛ انساب الاشراف، ټوک ۲، مخ ۴۳؛ شرح ابن ابی‌الحدید په نهج البلاغة، ټوک ۱۵، مخ ۷۳ کښې.

## ۶- په حضرت جعفر بن ابی‌طالب باندې د پېغمبراکرمﷺ ژړا

په استیعاب، اسد الغابه، اصابه، تاریخ ابن اثیر او هم داسې په نورو سني کتابونو کښې روایت شوے دے چې لنډیز یې داسې دے:

کله چې جعفر او د هغهٔ ملګري شهیدان شول نو پیغمبراکرمﷺ د هغوي کور ته ورغے، د هغوي بچیان یې راوغوښتل هغوي یې ښکل کړل [اله هغوي سره یې مینه وکړه] په داسې حال کښې چې د پېغمبراکرمﷺ له سترګو اوښکې جاري وې،.د حضرت جعفر مېرمن، بي بي اسماء وویل چې: زما مور او پلار له تا ځار شه اے د خداے ګران رسولهﷺ ته ولې ژاړې؟ آیا د جعفر او د هغهٔ ذ ملګرو څه خبر تاته رارسیدلے دے؟ وې فرمایل: «هو، هغوي نن شهیدان شول.» اسماء وویل: زهٔ پاڅیدم یوه چغه مې ووهله او ښځې مې راټولې کړې د فاطمې بي بي کور ته ننوتم نو ومې لیدل چې هغه هم ژاړي او داسې وائي وائي زما ګرانه ترهٔ! کله چې پېغمبراکرمﷺ [داسې ولیدل] وې فرمایل: په

ربنتیا چې ژړا کوونکي باید داسې وژاړي لکه څنګه چې په جعفر ژړا کيږي.[١]

## ٧- د خپلې مور آمنه بي بي په مزار د پېغمبر اکرمﷺ ژړا

په صحیح مسلم، مسند احمد، سنن ابي داود، نسائي او ابن ماجه کښې روایت راغلے دے چې:[٢]

ابوهریره وائي چې: پېغمبر اکرمﷺ د خپلې مور بي بي د قبر زیارت وکړ او ورباندې وژړېدۀ او له هغه حضرت سره چې څومره اصحابان وو هغوي هم ټولو وژړل.[٣]

---

١. تاریخ ابن اثیر، ټوک ٢، مخ ٩٠ او همداسې په هغو نورو کتابونو کښې چې په متن کښې ورته اشاره وشوه چې د جعفر طیار د ژوند په لیک کښې راوړې شوي دي.
٢. دا عبارت د صحیح مسلم دے.
٣. صحیح مسلم، ټوک ٢، مخ ٦٧١، کتاب الجنائز، باب ٣۶، حدیث ١٠٨؛ مسند احمد، ټوک ٢، مخ ۴۴١؛ سنن نسائی، ټوک ۴، مخ ٩٠، کتاب الجنائز؛ سنن ابن ماجه، ټوک ١، مخ ۵٠١، حدیث ١۵٧٢.

# په مختلفو مناسبتونو، په خپل ګران نمسي حضرت امام حسينعليه‌السلام باندې د پېغمبر اکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله ژړا

## ۱- د ام الفضل حديث

په مستدرک صحيحين، تاريخ ابن عساکر، مقتل خوارزمي او همداسې په نورو سني کتابونو کښې راغلي چې:[۱]

د حارث له لور ام الفضل څخه روايت کوي چې هغه د پيغمبر اکرم صلی‌الله‌علیه‌وآله خدمت ته ورغله او وي ويل: اے د خدا ے رسوله! ما بېګا ډير بد خوب وليد! وې فرمايل: «په خوب کښې دې څه وليدل؟» وې ويل: ډېره سخته اوګرانه خبره ده! وې فرمايل: «ووايه هغه څه دي؟» وې ويل: ومې ليدل چې ستا له مبارک بدنه يوه ټوټه جدا شوه او زما په

۱. د متن عبارت له مستدرک کتابه څخه دے.

غبرګ کښې راوغورزېده! پېغمبراکرمﷺ وفرمایل: «ښه خوب دې لیدلی دی؛ فاطمه ؑ به انشاء الله- زوی زیږوي چې ستا په لمنه کښې به ځای کوي.» [ویل شوي:] له دې پس لکه څنګه چې پېغمبراکرمﷺ فرمایلي وو، د فاطمې بي بيؑ زوی حسینؑ وزېږېد او هغه زما لمنې ته راغی. یوه ورځ د پېغمبراکرم ﷺ خدمت ته ورغلم او حسینؑ مې هغهٔ ته ورکړ لږ ساعت پس یې پام حسینؑ ته شو، او لږ غلی شو ناڅاپه د پېغمبراکرمﷺ له مبارکو سترګو د باران په څیر اوښکې روانې شوې! هغه وائي چې ومې ویل: اې د خدای نبيﷺ! زما مور او پلار له تا ځار شه دا څهٔ وشول چې په ژړا شوې؟ وې فرمایل: «چې جبرائیل راته خبر راکړ چې زما امت به په راتلونکي نږدې وخت کښې زما دغه نمسی وژني.» ما وویل دا (حسینؑ) به وژني؟ وې فرمایل: «هو، هغه حضرت لږه سره خاوره ما ته راکړه (چې دا د هغې زمکې خاوره ده چې حسینؑ به په کښې شهید یږي).»

حاکم د مستدرك صحیحین لیکوال وائي چې: دا حدیث د شېخښو [بخاري او مسلم] د حدیثونو په شرطونو سره

صحيح او سم دے، خو بيا يې هم دغه روايت ذکر کړے نۀ دے.[1]

**۲- د بي بي زېنب بنت جحش روايت**

په تاريخ ابن عساکر، مجمع الزوائد، تاريخ ابن کثير او په نورو سني کتابونو کښې روايت شوے دے چې:[2]

بي بي زينب بنت جحش وائي: «يوه ورځ چې پېغمبر اکرمﷺ زما په کور کښې ؤ او ما حسينؑ چې تازه يې

۱. مستدرك صحيحين، ټوک ۳، مخ ۱۷۶ او د هغه کوټلي او لنډيز په مخ ۱۷۹؛ تاريخ ابن عساکر، حديث ۶۳۱ او له همدې حديث سره په نزدې مضمون سره په حديث نمبر ۶۳۰؛ مجمع الزوائد، ټوک ۹، مخ ۱۷۹؛ مقتل خوارزمی، ټوک ۱، مخونه ۱۵۹ـ۱۶۲؛ تاريخ ابن اثير، ټوک ۶، مخ ۲۳۰. او په ټوک ۸، مخ ۱۹۹ کښې هم ورته اشاره شوې ده. امالی شجري، مخ ۱۸۸؛ فصول المهمة ابن صباغ مالکی، مخ ۱۴۵؛ روض النضير، ټوک ۱، مخ ۸۹؛ صواعق، مخ ۱۱۵، او په بل چاپ کښې مخ ۱۹۰. کنزالعمال، ټوک ۶، مخ ۲۲۳، مخکينې چاپ. الخصائص الکبرىٰ، ټوک ۲، مخ ۱۲۵. د اهل بېتوؑ په کتابونو کښې هم، په مثير الاحزان، مخ ۸ او لهوف ابن طاوس، مخ ٦ او ۷ کښې راغلے دے.

۲. دا عبارت د تاريخ ابن عساکر له کتاب او د هغه لنډيز دے.

مَرَل زده کړې وُ، لوبوۀ، يوه لحظه مې بل څه ته پام شو او له هغه غافله شوم، او هغه پېغمبراکرمﷺ ته ورغی، هغۀ وفرمايل: «خلاص يې پرېږده.» ـ ان تر دې چې زېنب وائې ـ بيا پېغمبراکرمﷺ لاسونه اسمان ته پورته کړل او بيا يې نمونځ شورو کړ کله چې يې نمونځ ختم کړ نو ورته مې وويل چې: اے د خدا ے رسوله! نن تا يو داسې کار وکړ چې تر اوسه مو له تاسو نۀ وُ ليدلے؟ وې فرمايل: «جبرائيل امين ما ته راغے او ما ته يې دا خبر راکړ چې زما امت به دغه [زما نمسے] قتلوي. ومې ويل: د هغه د شهادت د ځا ے خاوره راته وښايه نو هغۀ بزرګوار د سور رنګ خاوره ما ته راکړه.[۱]

۱. تاريخ ابن عساکر، د امام حسينؑ د ژوند د حال شرح، حديث ٦٢٩؛ مجمع الزوائد، ټوک ۹، مخ ۱۸۸؛ کنز العمال، ټوک ۱۳، مخ ۱۱۲؛ ابن کثير هم په خپل تاريخ کښې، ټوک ۸، مخ ۱۹۹ هغه ته اشاره کړې ده. د اهل بيتؑ د منونکو په کتابونو کښې هم راغلے دے، په امالي شيخ طوسی، ټوک ۱، مخ ۳۲۳؛ مثير الاحزان، مخونه ۷ـ۱۰، چې هغه په أخر کښې يوه مهمه تتمه ده. او همدا رنګ په لهوف، مخونه ۷ـ۹، ام المؤمنين زينب بنت جحش د پيغمبر اکرمﷺ مېرمن ده.

### ۳- د بي بي عائشې روايت

په تاريخ ابن عساکر، مقتل خوارزمي، مجمع الزوائد او همداسې په نورو سني کتابونو کښې له ابوسلمه بن عبدالرحمن څخه روايت کوي:[۱]

بي بي عائشه وائي: «پېغمبراکرمﷺ په داسې حال کښې چې حسينؑ يې په لمنه کښې ناست ؤ، جبرائيل ورته راغے او وې ويل: دا ستا زوے دے؟ وې فرمايل: «هو»، وې ويل: خو ستا امت به ډير زر – ستا له رحلت نه پس- دې وژني. د پېغمبراکرمﷺ سترګې له اوښکو ډکې شوې جبرائيل ورته عرض وکړ: که زړهٔ دې غواړي هغه زمکه چې ستا فرزند پکې شهيديږي در ته دروښايم. وې فرمايل: «هو راته وښايه» جبرائيل امين هم د طف [کربلا] زمکه هغه بزرګوار ته وښايله.»

د دې حديث بل عبارت داسې هم راغلے دے چې جبرائيل امين په عراق کښې د طف زمکې ته اشاره وکړه او له هغې

۱. د خوارزمي کتاب عبارت مو راوړے دے.

زمکې يې سره خاوره راواخېسته او هغه حضرت ته يې وښائله او وې ويل چې دا خاوره د هغه د قتلګاه ده.»[۱]

په دې حقله نور ډېر حديثونه هم شته چې د فرښتو لخوا، پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله ته د امام حسين علیه السلام د شهادت خبر ورکول هم تائيدوي. لکه:

۱. له بي بي ام سلمه نه په مستدرک صحيحين، طبقات ابن سعد، تاريخ ابن عساکر او په داسې نورو سني کتابونو کښې روايت شوے دے[۲] چې راوي ويلي دي چې:
بې بې ام سلمې ماته خبر راکړ چې: «يوه شپه پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله اودهٔ شو او [لږ وروسته] ډېر په خفګان سره ويښ

---

۱. طبقات ابن سعد، حديث ۲۶۹؛ تاريخ ابن عساکر، شرح حال امام حسين علیه السلام، حديث ٦٢٧؛ مقتل خوارزمی، ټوک ۱، مخ ۱۵۹؛ مجمع الزوائد، ټوک ۹، مخونه ۱۸۷ او ۱۸۸؛ کنز العمال، ټوک ۱۳، مخ ۱۰۸ نوې چاپ او ټوک ٦، مخ ۲۲۳ زوړ چاپ؛ الصواعق المحرقة ابن حجر، مخ ۱۱۵؛ خصائص السيوطی، ټوک ۲، مخونه ۱۲۵ او ۱۲٦؛ جوهرة الکلام للقرة غولی، مخ ۱۱۷؛ امالی شيخ طوسی چې د شيعهؤ د مکتب کتابونه دي، ټوک ۱، مخ ۳۲۵؛ امالی شجری، مخ ۱۷۷ په تفصيل سره.

۲. دا عبارت د مستدرك دے.

شو؛ بیا څملاستۀ او اودۀ شو او لږ وخت پس بیا په ډېر خفګان سره ویښ شو؛ بیا اودۀ شو او بیا په داسې حال کښې ویښ شو چې سره خاوره یې په لاس کښې وه او هغه یې بویوله او ښکُلوله. ما ورته وویل: اے د خدا ے رسوله! دا خاوره د کوم ځا ے ده؟ وې فرمایل: «جبرائیل ماته خبر راکړ چې دې [حسینؑ] به د عراق په زمکه کښې شهیدیږي. جبرائیل امین ته مې وویل: هغه زمکه چې نمسے به مې هلته شهیدیږي ماته راوښایه او دا د هغې زمکې خاوره ده.»

حاکم وائي: دا حدیث د شیخینو [بخاري او مسلم] د حدیث د شرطونو په مطابق صحیح د ے خو هغوي دغه حدیث په خپلو کتابونو کښې ذکر کړے نۀ د ے.[1]

---

۱. مستدرك صحیحین، ټوک ۴، مخ ۳۹۸؛ المعجم الکبیر طبرانی، حدیث ۵۵ ؛ تاریخ ابن عساکر، حدیث ۶۱۹؛ طبقات ابن سعد، تحقیق او خپور کړے، عبدالعزیز طباطبائی، مخونه ۴۲ ـ ۴۴، حدیث ۶۲۸؛ تاریخ الاسلام ذهبی، ټوک ۳، مخ ۱۱؛ سیر اعلام النبلاء، ټوک ۳، مخونه ۱۹۴ و ۱۹۵؛ مقتل خوارزمی، ټوک ۱، مخونه ۱۵۸ او ۱۵۹؛ ذخائر العقبیٰ،

۲. له انس بن مالک نه په مسند احمد بن حنبل، المعجم الکبیر طبراني، تاریخ ابن عساکر او په نورو سني کتابونو کښې روایت نقل شوے دے چې:[۱]

انس بن مالک وائي: د قطر په نوم يوې فرښتې له الله تعالیٰ اجازه واخښسته چې د پېغمبراکرمﷺ ديدار ته راشي؛ نو پاک الله ورته اجازه ورکړه نو هغه فرښته په داسې ورځ د پېغمبراکرمﷺ خدمت ته راغله چې هغه حضرت د بي بي ام سلمې په کور کښې ؤ. پېغمبراکرمﷺ بي بي ام سلمې ته وفرمايل: «خيال کوه چې زمونږ مجلس ته رانۀ شي.» په داسې حال کښې چې هغه بي بي په دروازه کښې ولاړه وه ناڅاپه حسين بن عليؑ راغے هغۀ دروازه خلاصه کړه او راننوت پېغمبر اکرمﷺ هم هغه راونيوۀ او ښکلوۀ يې نو هغې فرښتې ورته وويل: ايا دا ماشوم په تا ګران او درته خوږ دے؟ وې فرمايل: «هو.»

---

محب الطبری، مخونه ۱۴۸ او ۱۴۹؛ تاریخ ابن کثیر، ټوک ۶، مخ ۲۳۰؛ کنز العمال، متقی، ټوک ۱۶، مخ ۲۶۶.

۱. دا عبارت د مسند احمد بن حنبل کتاب دے.

وې ويل: ستا امت به ډېر زر دې وژني! که غواړې نو هغه ځای درښودلی شم چې په کوم ځای کښې به دې شهيديږي؟ وې فرمايل: «هو، غواړم.» نو وې ويل: هغې فرښتې له هغه ځايه چې دې پکښې شهيديږي يو موټې خاوره رواخېسته او هغه حضرت ته يې وښائله، او پس له دې يې د هغې زمکې لږ شان ريګ يا سرې خاورې راوړې. چې ام سلمې هغه رواخېستې او په يو رومال کښې يې سنبالې کړې د حديث رواي، ثابت، وائي: مونږ ـ هغه وخت ويل چې دا خاوره د کربلا ده![1]

۱. مسند احمدبن حنبل، ټوک ۳، مخونه ۲۴۲ او ۲۶۵؛ تاريخ ابن عساکر، د امام حسينعليه‌السلام د ژوند د حال په شرح کښې، حديث ٦١٥ ـ ٦١٧ او هغه په خپل تهذيب تاريخ کښې، ټوک ٤، مخ ٣٢٥؛ معجم الکبير طبرانی، د امام حسينعليه‌السلام د ژوند حال په شرح کښې، حديث ٤٧؛ مقتل خوارزمی، ټوک ۱، مخونه ١٦٠ و ١٦٢؛ تاريخ الاسلام ذهبی، ج ۳، مخ ۱۰؛ سير اعلام النبلاء، ټوک ۳، مخ ۱۹۴؛ ذخائر العقبیٰ، مخونه ۱۴۶ و ۱۴۷؛ مجمع الزوائد، ټوک ۹، مخونه ۱۸۷ و ۱۹۰، په يو بل سند سره؛ تاريخ ابن کثير، باب الاخبار بمقتل الحسين، ټوک ۶، مخ ۲۲۹ چې په هغهٔ کښې داسې عبارت ذکر شوے دے: «مونږ تل دا خبره اوريده چې

## هغه روايتونه چې وائي پېغمبراکرم خلق له ژړا منعې کول او د هغو روايتونو علت

په صحيح مسلم او سنن نسائي کښې له عبدالله څخه روايت راغلی دے چې: بي بي حفصې د خپل پلار (دويم خليفه) په بيمارۍ وژړيده. پلار ورته وويل: لورې صبر وکړه! ايا تا ته پته نشته چې پېغمبراکرمﷺ فرمايلي دي

---

هغـه بـه پـه کـربلا کښـې شـهيديږي.» او ټوک ۸، مخ ۱۹۹؛ کنز العمـال، ټوک ۱۶، مخ ۲۶۶. الصـواعق المحرقـه؛ ابـن حجـر، مـخ ۱۱۵؛ الـدلائل ابی‌نعيم، ټوک ۳، مخ ۲۰۲؛ الروض النضير، ټوک ۱، مخ ۱۹۲؛ المواهب المدنية قسطلانی، ټوک ۲، مخ ۱۹۵؛ خصائص سيوطی، ټوک ۲، مخ ۲۵؛ موارد الضمآن بزوائد صحيح ابن حبان، ابوبکر هيتمی، مخ ۵۵۴. د اهـل بيـتعليهم‌السلام د مکتـب د پيروکـارو پـه کتابونوکښـې هـم، امـالی شـيخ طوسی [تولد/۴۶۰ هجری]، ټوک ۱، مخ ۲۲۱ چې پـه هغـه کښـې عبـارت داسې دے: «له ملائيکو څخه يوه لويه ملائېکه....»

چې: «مړے د خپلو خپلوانو د ژړا په وجه په عذاب کښې وي ‹يعني ورته تکليف رسي›»؟[۱]

په بل روايت کښې داسې راغلي دي:

عمر وويل: چې پېغمبراکرمﷺ وفرمايل:«مړے په قبر کښې د خپلو خپلوانو د ژړا په وجه عذاب ويني.»[۲]

او په بل روايت کښې داسې راغلي دي:

عبدالله بن عمر وائي: کله چې مې پلار ژوبل شو نو بې هوشه شو نو د بې هوشۍ په حال کښې دا ګومان وشو چې که مړ دے نو ورباندې ژړا او وير وشو. کله چې په هوش کښې راغے وې ويل: آيا تاسو ته پته نشته چې

---

۱. صحيح مسلم، ټوک ۲، مخ ۶۳۹، کتاب الجنائز، باب الميت يعذب ببکاء اهله عليه؛ سنن نسائی، ټوک ۴، مخ ۱۸، کتاب الجنائز، باب النهی عن البکاء علی الميت.

۲. صحيح مسلم، ټوک ۲، مخ ۶۳۹؛ صحيح ترمذی، ټوک ۴، مخ ۲۲۲، کتاب الجنائز، باب ۲۴؛ سنن ابن ماجه، ټوک ۱، مخ ۵۰۸، کتاب الجنائز، باب الميت يعذب بما نيح عليه.

پېغمبراکرمﷺ فرمایلي دي: «چې مړے د ژوندیو کسانو د ژړا له امله عذاب ویني.»[۱]

د حدیث په حقله د بي بي عائشې سپیناوے او وضاحت او د خلیفه او د هغهٔ د زوی غلطي لرې کول

په صحیح بخاري، صحیح مسلم او سنن نسائي کښې روایت شوے دے چې:

ابن عباس وائي: کله چې مدینې ته ورسېدم، نو دغه وخت چې لا د دویم خلیفه حکومت ټینګ او مضبوط شوے نهٔ ؤ چې ګوزار یې وخوړهٔ او ژوبل شو نو صهیب یې سر ته راغے او چغې یې وهلې چې وئ زما وروره ! وئ زما ملګریه!. خلیفه ورته وویل: آیا ته خبر نه یې او اوریدلي دې نهٔ دي چې پېغمبراکرمﷺ وفرمایل: «مړے د خپلوانو د ژړا ګانو په خاطر عذاب ویني.»؟

ابن عباس وائي: زهٔ پاڅېدم اود بي بي عائشې خدمت ته ورغلم او هغه څه چې تېر شوي وو هغې ته مې بیان کړل.بي

۱. صحیح مسلم، ټوک ۲، مخ ۶۳۹؛ سنن نسائی، ټوک ۴، مخ ۱۸.

بي وويل: نه په خدا ے قسم! رسول اللهﷺ هيڅ کله داسې نه دي فرمايلي چې: «مړے د بل چا د ژړا له امله عذابيږي.» بلکه هغه حضرت فرمايلي دي چې:

«إنَّ الكافرَ يَزيدُه اللّهُ بِبُكاء أَهله عذاباً وَ انَّ اللّه لَهُو أضْحك و أبْكى، ولا تزر وازرة وِزْرَ اُخرى.»

خدا ے تعالیٰ کافران د خپلوانو د ژړا له امله زيات عذابوي او يوازې خدا ے دے چې خندول او ژړول د هغه په اختيار کښې دي او څوک د بل کس د ګناه سزا او بوج نه اخلي.

قاسم بن محمد وائي: کله چې د خليفه او د هغهٔ د زوے خبرې بي بي عائشې ته ورسيدې نو هغې وويل چې تاسو ما ته د داسې کسانو په هکله خبر راکړ چې نه هغوي دروغ وائي او نه بل څوک تکذيبوي، خو [په هر حال] د انسان غوږونه خطا کولې شي.[۱]

---

۱. صحيح مسلم، کتاب الجنائز، باب ۹، حديث۲۲ و۲۳ صحيح بخاري، کتاب الجنائز، باب يعذب الميت ببکاء اهله عليه، ټوک ۱، مخونه ۱۵۵ او ۱۵۶؛ سنن نسائی، ټوک ۴، مخ ۱۸، کتاب الجنائز، باب النياحة على

په صحيح مسلم، صحيح بخاري، سنن ترمذي او موطأ امام مالك كښې روايت دے چې:

هشام بن عروه له خپل پلاره نقلوي چې وائي: د بي بي عائشې څنګ ته ناست ؤم وويل شو چې د خليفه زوے ويلي دي چې: «مړے د خپلوانو د ژړا په خاطر عذابيږي.» بي بي وويل: «خدائے دې ابا عبدالرحمن وبخښي، يو څه يې اوريدلي دي خو ښۀ پرې پوهـ شوے نۀ دے، [قصه داسې وه چې:] د يو يهودي جنازه په داسې حال كښې چې وربانديې ژړاكيدا د پيغمبراكرمﷺ څنګ ته تېره شوه نو هغه حضرت هغوي ته په خطاب كښې وفرمايل چې: «تاسو ژړاكوئ او د دۀ عذاب لا سختيږي.»[1]

---

الميت؛ الاجابة لا يراد ما استدركته عائشه على الصحابة، زركشي، مخ ۸۲، باب استدراكها على عمر بن الخطاب.

۱. صحيح مسلم، كتاب الجنائز، باب ۹، حديث ۲۵؛ صحيح بخاري، ټوک ۱، مخ ۱۵۶، كتاب الجنائز، باب الميت يعذب ببكاء بعض اهله؛ صحيح ترمذی، كتاب الجنائز، باب ۲۵، ټوک ۴، مخونه ۲۲۶و۲۲۷؛ موطأ مالك، ټوک ۱، مخ ۲۳۴، كتاب الجنائز، باب النهی عن البكاء على الميت.

امام نووی [وفات ۶۷۶ هجری] په شرح صحیح مسلم کښې، د هغو روایتونو په حقله چې له ژړا څخه د منعې کولو متعلق له پېغمبراکرمﷺ څخه راغلي داسې وائي: دا روایتونه یوازې له عمر او د هغهٔ له زوے عبدالله څخه نقل شوي دي او ام المومنین له داسې حدیثونو انکار کوي او دا یې د هغوي هېره او غلطي ګڼلې ده او بي بي عائشه وائي چې دا حدیثونه له پېغمبراکرمﷺ څخه نقل شوي نهٔ دي.[1]

له ژړا نه د عمر په منعې کولو د پېغمبراکرمﷺ نهي کول

په سنن نسائي، سنن ابن ماجه او مسند احمد بن حنبل کښې روایت شوے دے چې:[2] سلمه بن ازرق وائي: وامې وربدل چې ابوهرېره وویل: د پېغمبراکرمﷺ یو خپل کس په حق ورسید، ښځې راټولې شوې او په هغهٔ یې ژړا شروع کړه عمر بن خطاب پاڅېد او هغوي یې له ژړا منعې کړې او هغوی یې پاڅولې چې پېغمبراکرمﷺ وفرمایل: اے عمره!

---

۱. شرح صحیح مسلم، الامام النووی، ټوک ۶، مخ ۲۲۸، کتاب الجنائز.
۲. د نسايي کتاب عبارت مو راوړی.

دوي په خپل حال پرېږده د دوي سترګې له اوښکو ډکې او زړونه يې غمجن او مصيبت يې تازه دے.»[1]

په مسند احمد بن حنبل کښې له وهب بن کيسان چې هغه يې له محمد بن عمرو روايت کوي چې:

سلمة بن ازرق له عبدالله بن عمر سره په بازار کښې ناست ؤ چې څو کسانو يوه جنازه تېره کړه او ورباندې يې ژړاکوله. دغه کار د عبدالله بن عمر خوښ نۀ شو او هغو يې منعې کړل. سلمة بن ازرق هغۀ ته وويل چې داسې مه کوه! ځکه چې زۀ په خپله ګواه يم او له ابو هرېره مې اوريدلي دي چې د مروان يوه خپله مړه شوې وه او مروان هغه ښځې له کوره وباسلې چې کومو ژړا کوله نوابو هرېره چې له جنازې سره ولاړ ؤ وويل چې: اے ابا عبدالملك! هغوي په خپل حال پرېږده، ځکه چې يوه ورځ مو وليدل چې يوه جنازه يې د

١. سنن نسائی، ټوک ٢، مخ ١٩، باب الرخصة فی البکاء علی الميت؛ مسند احمد، ټوک ٢، مخونه ٢٧٣، ١١٠، ٤٠٨ و٤٤٤؛ سنن ابن ماجه، ټوک ١، مخ ٥٠٥، کتاب الجنائز، باب ما جاء فی البکاء علی الميت، حديث ١٥٨٧.

پېغمبراکرمﷺ څنګ ته تېره کړه. زۀ او عمر بن خطاب هم له پېغمبراکرمﷺ سره وو عمر وغوښتل چې هغه ښځې چې له جنازې سره ژاړي وشړي خو پېغمبراکرمﷺ وفرمايل: د خطاب زويه! هغوي په خپل حال پرېږده د هغوي زړونه داغدار، سترګې يې ژړېدلې او غم يې تازه دے.»[1]

د روايتونو جاج او د هغو نتيجه

د وړومبۍ برخې روايتونو دا ثابته کړه چې: په هغه کس چې د ځنکندن په حال کښې (محتضر) وي او يا هغه څوک چې مړ شوے وي او هم دا رنګ د مړو په قبرونو که هغه شهيدان وي او که غېر شهيدان ژړا کول روا دي او همدغه د پېغمبراکرمﷺ سيرت دے.

د دويمې برخې روايتونو دا ثابته کړه چې: پېغمبراکرمﷺ په ځلونو د خپل شهيد نمسي [امامحسينؑ] لپاره وژړېدۀ، او د دا ډول ژړا په اثبات سره چې هغه حضرت په

١. مسند احمد بن حنبل، ټوک ٢، مخونه ٢٧٣ و ۴٠٨ او په همدې مضمون سره نږدې په ٣٣٣ مخ کښې.

حضرت امام حسین علیه السلام وژړیدهٔ دا برخه هم له وړومبۍ برخې سره یوځای کیږي او سمون ورسره خوري او دا کار هم د پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله له سیرت څخه ګڼل کیږي.

د دریمې برخې روایتونو دا ثابته کړه چې: په مړي د ژړا نهي کوونکي روایتونه،یوازې دویم خلیفه او د هغهٔ زوی عبدالله نقل کړي دي چې ام المؤمنین بي بي عائشې په خپل استدراک او وضاحت کښې وویل چې: «خدای دې ابا عبدالرحمن وبخښي چې یو څه یې اوریدلي دي خو ښه ورباندې نه دی پوه شوی» او هم دا رنګ د نورو صحابهٔ وینا وې لکه: ابوهریره او ابن عباس چې د دې موضوع په اړه یې خبرې کړې دي، مونږ له دې ټولو خبرو دا تر لاسه کوو چې:

هغه څه چې دویم خلیفه او د هغهٔ زوی عبدالله «په مړي له ژړا کولو څخه د پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله منعې کول» روایت کړي دي خطا او غلطي ده.

له همدې امله په هغه چا ژړېدل چې د مرګ په حال کښې وي یا په هغه کس ژړېدل چې مړ شوی وي، او د مړي په قبر

ژړېدل د پېغمبر اکرمﷺ له سنت او سيرت څخه دي. نو په امام حسينؑ باندې ژړا کول هم، د پېغمبر اکرمﷺ له سنتو او سيرته پيروي ده.

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾

**Download from:aghalibrary.cm**